هیواد
ورځپاڼه

# د هوايي دهلیز له لارې د ۱۵۰ میلیونو ډالرو په ارزښت صـــادرات شوي

د افغانســـتان هوايـــي دهلیز چې له چـــین، اماراتو او هنـــد سره د سوداګریزو توکو د لېږد – رالېږد په برخه کې له مهمو لارو څخه بلل کېږي، د صادراتو او وارداتو کچه یـــې ۲۹۰ میلیونـــو ډالرو ته رسیدلې ده. د صنعت او سوداګرۍ وزارت ویاند عبدالسلام جواد له ملي ټلویزیـــون سره په مرکه کې ویـــلي، چې افغانســـتان په تېر یو کال کـــې د ۱۵۰ میلیونو ډالرو په ارزښت صادرات او د ۱۴۰ میلیونو ډالرو په ارزښـــت واردات کړي دي. د نوموړي په وینا: افغانستان د صادراتو او وارداتو په برخه کې له هېڅ هیواد سره په ستونزه کې نه دي ښکېل شوي. جواد وايي، چې د دغه وزارت سرپرست پاکستان، ایران، چین او د ســـیمې یو شمېر هیوادونو ته په سوداګرېزو چارو کې د آســـانتیاوو د رامنځته کولو په موخه سفرونه کړي، ترڅو له دغو هیوادونو سره سوداګریزې اړیکې پراخې شي.

مؤسس: عبدالرووف بېنوا | د تاسیس کال ۱۳۲۸ لمریز | پنجشنبه درجب المرجب ۲۱ | د سلواغې ۱۲ مه ۱۴۰۲ ل کال | د فبروري لومړۍ ۲۰۲٤ م کال | خصوصي ګڼه ۲۳۴ مه | پرله‌پسې ګڼه ۳۲۴ مه ،اتمه‌دوره

# د ترانسپورټ برخه کې د درېوو پروژو تړونونه لاسلیک شول



د ترانسپورټ او هوايي چلند وزارت سرپرست ملا حمیدالله آخندزاده، د افغانستان د اسلامي امارت د ریاست‌الوزراء د اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر آخوند په حضور کې، پرون د درېوو خصوصي شرکتونو له مسئولینو سره د څه د پاسه دوه میلیارده افغانیو په ارزښت د درېوو مهمو پروژو تړونونه لاسلیک کړل.د ترانسپورټ او هوايي چلند وزارت سرپرست په همدې مناسبت د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو په مرکز کې جوړې شوې غونډې ته وویل ،چې د اسلامي امارت په راتګ سره، له هر بل وخته ښه د افغانستان د ستراتیژیک موقعیت د را ژوندي کولو لپاره د حمل او نقل د یوه اغېزمن سیستم د رامنځته کېدو زمینه برابره شوې ده.ده زیاته کړه، چې د ترانسپورټ او هوايي چلند وزارت هڅه کوي د یو منظم، اغېزناک او ځواب ویونکي ترانسپورټي سیستم په رامنځته کولو سره په اقتصادي، سوداګریزو او ټولنیزو برخو کې هیوادوالو ته غوره خدمات وړاندې کړي. ملا حمیدالله آخندزاده، دغه راز د عامه او خصوصي مشارکت له لارې د دغو درېوو لویو معیاري ملي ترانسپورتي ساختماني پروژو د قراردادونو په اړه معلومات ورکړل او ویې ویل ،چې ۵مخ

# د چین ولسمشر د افغانستان د لوی سفیر باورلیک ومانه

د چین ولسي جمهوریت ولسمشر شي جین‌پینګ د چین لپاره د افغانستان د اسلامي امارت د لوي سفیر او فوق العاده استازي په توګه د مولوي سفیر، د ځانګړو تشریفاتي مراسمو په ترڅ کې، په بیجینګ کې د خلکو په لوی هال کـــې، خپل باورلیک د چین ولسمشر شي جین پینګ ته وړاندې



اسدالله (بلال کریمي) باورلیک ومانه.د بهرنیو چارو وزارت ویاند عبدالقهار بلخي وایي چې ورمه ورځ د افغانستان د اسلامي امارت لوي کړ.بلخي زیاته کړې چې په دې مراسمو کې د افغانستان د اسلامي امارت پر لوی سفیر سربېره د ۴۱ نورو هیوادونو سفیرانو هم ۵مخ

# ارزګان کې مجهز روغتون پرانیستل شو

په ارزګان کې د کډوالو چارو د عالي کمیشنرۍ په ملاتړ د ۳۰۰ زره امریکایي ډالرو په ارزښت یو روغتون پرانیستل شو. د دې ولایت د عامې روغتیا رئیس ډاکتر محمد الله روحاني ویلي عامې روغتیا رئیس وویل: (( دا سیمه تر ۴۰ زره پورې نفوس لري، دا یو سي ایچ سي کلینیک دی، د مهراباد په سیمه کې چې د (( یو.این.ایچ.سي.آر)) په مرسته جوړ شوي. ۱۰بستره به هره



،چې په یاد روغتون کې به د ۳۰۰ناروغانو درملنه کېږي.دی وایي، د یاد روغتون چارې په ۱۲ میاشتو کې بشپړې شوې دي.د ورځ لري. د میاشتي ۳۰۰ بستره کېږي. په دې کلینیک کې د مور، ماشوم، د سوی تغذیي خدمات دي، واکسین دي او د آو. ۵مخ

# بندرونو کې د الکترونیکي سکنرونو د نصب طرحه تائید شوه

د پانګونې د بین‌الوزارتي کمېټې په نوبتي غونډه کې، چې ورمه ورځ په مرمرینه مانۍ کې جوړه شوې وه، له اجنډا سره سم د بهرنیو او کورنیو خصوصي شرکتونو له لوري د پانګونې د وړاندې شویو، یو شمېر طرحو په اړه بحث شوی.یادې غونډې ته د خصوصي شرکت له لوري د هېواد په ۱۲ بندرونو کې د الکترونیکي سکنرونو د نصب طرحه د بحث لپاره وړاندې شوې وه، چې له هر اړخیز بحث وروسته د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې د نظرونو په پام کې نیولو سره یاده طرحه تائید او د منظورۍ لپاره اقتصادي کمېسیون ته وړاندې شوه.دغې ناستې ته د ترانسپورټ او هوايي چلند وزارت استازو د ننګرهار ولایت په مهمندره ولسوالۍ کې د خصوصي سکتور له لوري د تیرپارک جوړولو طرحې د ارزونې راپور هم وړاندې کړي، طرحه تائید او د منظورۍ لپاره اقتصادي کمېسیون ته راجع شوه. همدارنګه د پاتې نورو طرحو په اړه له هر اړخیز بحث وروسته پام کې نیولو سره د طرحو له وړاندې کوونکو شرکتونو سره د یادو طرحو د مالي، اقتصادي او تخنیکي اړخونو د ارزونې په



چې د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې له لوري د راغلو تعدیلاتو په نظر کې نیولو سره یاده تاکل شویو کمېټو ته دندې سپارل شوې، څو د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې د نظرونو په موخه ناستې ترسره او راپوورنه دې پر ټاکل شویو نېټو دې کمېټې ته وړاندې کړي.

# غور کې ۱۶ مخابراتي آنتنونه فعال شوي

د غور ولایت د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ ریاست چارواکي په دې ولایت کې د اسلامي امارت له واکمنۍ وروسته د ۱۶ نویو مخابراتي انتنونو د فعالېدو او همدا راز د ۱۹ نورو ساحو د سروې د پیل خبر ورکوي.د دې ولایت د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ رئیس مولوي محمد یوسف راهنما د باختر آژانس خبریال ته وویل، چې دوی د مخابراتو وزارت په همکارۍ او همغږۍ په دې ولایت او ولسوالیو کې د سلام، اتصالات او افغان بسیم شرکتونو په ګډون ۱۶ مخابراتي انتنونه فعال کړي دي.

د ده په وینا، د دې ولایت په بېلابېلو سیمو او ولسوالیو کې د مخابراتي آنتنونو د نصبولو لپاره ۵مخ

# سږ کال په هیواد کې ۳۰۴۵ ترافیکي پېښې شوي

د کندز اوسېدونکي محمد چې درې اوونۍ وړاندې یې ورور له مېرمنې او ماشوم سره په یوه ترافیکي پېښه کې خپل ژوند له لاسه ورکړی، له اړوندو مسئولانو غواړي چې پر لویو لارو د ترافیکي پېښو د کموالي لپاره لاس په کار شي.دی وایي: (( له بده مرغه درې اوونۍ وړاندې مې ورور له مېرمنې او ماشوم سره د امام صاحب-کندز پر لویې لارې یوه ترافیکي پېښه کې خپل ژوند له لاسه ورکړ. موږ غواړو چې د ترافیکو ریاست د ترافیکي پېښو د کمېدو لپاره هڅې وکړي.)) په همدې حال کې د بدخشان اوسېدونکی سیداکبر هم وایي، چې ورور یې په دغه ولایت کې موټر چلاوه او یوه میاشت وړاندې یې د لارې د خرابوالي له امله په یوه ترافیکي پېښه کې چې د روان لمریز کال له پیل څخه تر اوسه په هیواد کې څه باندې درې‌زره ترافیکي پېښې شوې چې په پایله کې یې له ۱۵۰۰ ډېر کسان



خپل ژوند له لاسه ورکړ.په ورته وخت کې د کورنیو چارو وزارت د ترافیکو د عمومي ریاست مسئولانو سلام‌وطندار ته ویلي، وژل شوي او لـه ۴۰۰۰ ډېر نور ټپیان شوي دي.د کورنیو چارو وزارت د ترافیکو عمومي ریاست د پلان برخې ۵مخ

# فراه کې ۵۰۰ کورنیو ته د څښاک اوبه برابرې شوې

د کلیو د بیا رغونې او پراختیا ریاست مسئولین وایي چې فراه کې یې د ۸،۸ میلیونه افغانیو په لګښت د اوبو رسونې یوه شبکه ګټې اخیستنې ته سپارلې ده.د یاد وزارت مسئولین زیاتوي، په یاد ولایت کې د اوبو رسولو د یوې شبکې په جوړولو سره ۵۰۰ کورنیو ته د څښاک اوبو د برابرولو خبر ورکړي دي.د فراه د کلیو بیا رغونې او پراختیا ریاست مطبوعاتي مسئول محمد محمدي د باخترآژانس خبریال ته ویلي، چې دغه شبکه د یاد ولایت د بالابلوک ولسوالۍ په کنسک کلي کې د یونیسف دفتر په مالي ملاتړ د ۸،۸ میلیونه افغانیو په ۵مخ

# کشاورزان زعفران در کندهار از نبود بازار مناسب شکایت دارند

پس از ممنوعیت کاشت کوکنار، کاشت زعفران در کندهار افزایش یافته است و هم‌اکنون در ۴۴۱



جریب زمین این ولایت زعفران کاشت می‌شود. اما کشاورزان زعفران در کندهار، از نبود بازار مناسب شکایت دارند و می گویند، که حکومت برای بازاریابی زعفران به بیرون از کشور، باید اقدامات عملی کند.آن‌ها، برای پروسس زعفران خواستار فراهم‌سازی ماشین‌هایی که قدرت خشک‌سازی این گیاه را دارد، نیز هستند.عثمان، کشاورز در کندهار، می‌گوید: (( نه مارکیت در این جا ساخته شده است و نه بازرگانان زعفران آمده اند. ما زعفران را جمع کردیم، همه‌اش افتیده است. پول نداریم، حالا مردم مجبور اند زمین‌های زعفران را دوباره با تراکتور ویران کنند و گندم کاشت کنند؛ چون برای آن بازرگان نیست.))پیرآغا، کشاورز در کندهار، نیز می گوید: (( ما ماشین خشک کردن زعفران نداریم، ما از نهادها و مؤسسه‌ها می‌خواهیم که با ما همکاری کنند تا بتوانیم کاشت خوب داشته باشیم.))با این حال، مسئولین در ریاست زراعت، آبیاری و ص۵




# اوبه وسپموئ او ژوند وژغورئ!

د الله تعالی له لوري پیدا شوې پاکه او د انساني ژوند لپاره له ټولو ښایسته او مناسبه نړۍ اوسمهال د ځینو انساني کړنو، بې غوریو او د ستر رب جل جلاله له احکامو د پرله پسې سرغړونو له امله له یو لړ جدي صحي او ټولنیزو ستونزو سره مخ ده او د هوسا ژوند تېرول په کې ورځ تر بلې ستونزمن کېږي. د هرې ورځې په تېرېدو سره پاکو اوبو ته د انسانانو لاسرسی محدودېږي، د چاپېریال ککړتیا او د اقلیمي بدلون ستونزه هم د پراخېدو په حال کې ده او دا هغه ننگونې دي، چې ټوله نړۍ گواښي او نږدې ټول ژوندي ژوي یې له ناوړه اغېزو کړېږي.

اوبه د الله تعالی هغه ستر نعمت او پېرزوینه ده، چې هر ژوی یې له برکته د ژوند سا کاږي، که اوبه نه وي، ژوندي موجودات ټول د نباتاتو په شمول له منځه ځي. افغانستان هم له دغې ستونزې سره مخ دی، اوس د هیواد په ډېرو سیمو کې خلک د څښاک اوبه په پیسو اخلي او یا یې په ډېر تکلیف له ډېرو لرې سیمو راوړي، د ځمکې لاندې پاکې اوبه کښته روانې دي، دا ستونزه د هرې ورځې په تېرېدو سره بحراني حالت خپلوي. د ځمکې لاندې اوبه که تغذیه نشي او داسې په بې غورۍ سره ضایع کېږي، یوه ورځ به خدای مه کړه له دې هم له ډېرو سترو ناخوالو سره مخ شو.

افغانستان کې د اوبو سطحې د کښته تلو ډېر لاملونه دي، خو ځینې مهم یې دا دي:

له ټولو مهم لامل یې د سیمې او نړۍ په کچه وچکالي او اقلیمي بدلون دی. په بې ساري ډول د خلکو له لوري پر لمریزې برښنا د اوبو را اېستل هم د دغې ستونزې ستر لامل گڼل کېږي، الله تعالی تر ځمکې لاندې پاکې اوبه د انسانانو د څښاک لپاره پیدا کړي دي او د کروندې زراعت لپاره یې د ځمکې له پاسه د سترو بحرونو، سیندونو او کاریزونو اوبه چمتو کړي دي،خو له دې امله چې حکومتونو د اوبو د مدیریت په برخه کې لکه څرنگه چې پکار دی، هغسې کار نه دی کړی، خلک تر ځمکې لاندې اوبه د زراعت او کروندې لپاره په ډېر غیر معیاري ډول استعمالوي.

په سترو ښارونو کې د پاکو اوبو د معیاري شبکو نشتون هم د دې ستونزې اساسي لامل دی، اوس هر څوک اوبو ته د لاسرسي په پار ژورې څا گانې باسي او دغه راز د اوبو د تصفیه کولو شرکتونه هم په ډېر غیر معیاري ډول یوازې د خپلو شخصي گټو په خاطر ډېرې زیاتې اوبه استخراجوي، چې له امله یې د اوبو سطحه ورځ تربلې د ښکته کېدو په حال کې ده.

د دې لپاره چې پاکو اوبو ته لاسرسی اسانه شي او د ځمکې لاندې اوبه خوندي شي، حکومت او عام وگړي مسئولیت لري، چې لاس په کار شي او دغې ستونزې ته اساسي حللاره ومومي. حکومت مسئولیت لري، چې د هیواد اوبه ښې مدیریت کړي، ستر او واړه بندونه ورغوي، خلکو ته د پاکو اوبو رسولو مناسب سیستم رامنځته کړي او داسې قوانین جوړ کړي، چې خلک پرې په خپل سر د اوبو له بې غوره کارونې را وگرځول شي. که څه هم اسلامي امارت په دې برخه کې له لومړۍ ورځې څخه لاس پکار دی، چې د قوشتیپې کانال او د اوبو د څو نورو بندونو د رغولو چارې یې ښه مثالونه دي؛ خو لا ډېر کار او پاملرنې ته اړتیا ده.

د اوبو سپما او پر ځای استعمال بیا فردي مسئولیت دی او هر وگړی دنده لري، چې په معیاري او له دولتي قانون سره سم له اوبو څخه گټه پورته کړي. که د اوبو د سپما په برخه کې حکومت او خلک لازم اقدامات ونه کړي او مناسبې حللارې ورته پیدا نه کړای شي، راتلونکي نسلونه به پر خوړو سربېره د اوبو لپاره هم کار کوي او د ژوند ستونزې به یې څو برابره زیاتې شي.

# هغوی چې آمرین بالمعروف دي!

خالقیار احمدزی

افغانستان کې د اسلامي امارت په تېره او اوسنۍ واکمنۍ کې یو متفاوت ارگان چې رامنځته شو، هغه د امربالمعروف او نهي عن المنکر په نامه لویه اصلاح کوونکې اداره وه، چې د نظام په چارو کې د خپلو او پردیو سترگې تر ډېره دغې اداري ته وې او دي.

داچې د گډوله حکومت له نړیدو وروسته دلته په لسگونو داسې اداري په میراث پاتې وې، چې بقاء یې یواځې د کارمندانو د معاشاتو په گټه وه، نو د ا.ا.ا له خوا یې ځینې منحل اعلان شوې لکه: د سولې په چارو کې د دولت وزارت، د پارلماني چارو وزارت او... خو داچې د امر بالمعروف اداره د امارت ځانگړنه وه، نو د جمهوریت له سقوط وروسته یوځل بیا د یوه لوي وزارت تر عنوان لاندې احیاء شو.

د دغه وزارت مسئولیت تر ډېره اصلاحي جنبه لري، ټولنه کې د مفاسدو مخه نیسي او د نیکو کارونو لارښوونه یې له مسئولیتونو څخه شمېرل کیږي.

داچې یاد وزارت ولې خپلو او پردیو ته مهم دي او په هکله یې باید لا نور څه هم وشي، لاندې ټکو ته یې په هکله اشاره کوم.

د تېرو ۲۰ کلونو په ترڅ کې د امریکا او متحدینو یې د خپل تر واک لاندې اجیر رژیم پر مټ په افغانستان کې لویه موخه د فکري، عقیدوي او فرهنگي جگړې مخته وړل و. هغوي که څه هم د دې لپاره کومه مشخصه اداره نه وه ایجاد کړې، خو د امریکایي سفارت او نورو بهرنیو سفارتونو، امنیت شورا او..... له بودیجې څخه یې په مختلفو ساحو کې له ډول ډول وسائلو او امکاناتو په استفادې سره، د نوي افغان نسل د بې لاریتوب هڅې کولې.

په مکاتبو کې له ښوونیز نصابه نیولې، بیا په عامه رسنیو کې د فاحشو سریالونو تر خپراوي، تبلیغاتي اعلاناتو او د دروغجنو خبرونو تر نشر پورې.... ټوله هڅه یې دا وه چې ولسونه له زور پرته د دوي دیموکرات فکر او سیکولره نظریه ومني.

هغوي د دې جگړې لپاره پراخ او هر اړخیز مالي سپانسر کاوه، چې اغېزې یې په ښاري سیمو کې له ورایه جوتیدلې؛ کله چې ناخبرو ځوانانو هرڅه لیدل، د مشرانو خبرو ته له اعتناء پرته به یې تقلید کاوه او له رسنیزو آدرسونو، د مکاتبو له استادانو او نورو معلوماتي منابعو څخه اخیستل کیدونکې مفکوره به یې په عملي ژوند کې پلې کوله.

هوکې! دا ټوله داعیه مخامخ خارجیانو نه؛ بلکې د هغوي دیموکراتو داخلي برېڅو مخته وړله؛ خبریالانو به له رسنیو څخه خپلې پروژې مخته وړلې؛ د ښارونو ځینې کرایي ملایانو به د مساجدو له منبرونو او د مکاتبو استادانو په خپلو صنفونو کې د امریکایي سفارت فرمایشي لوبې تطبیق کولې.



خو کله چې ا.ا قائم شو، پورته مرموزو لوبو ته هم د پای ټکي کېښودل شو، له اسلامي ارزښتونو، کلتوري جوړښتونو او ملي علیاء مصالحو سره په ټکر کې هره داعیه منکر وبلل شوه او پر ځای یې له شریعت سره سم د اساسي کارونو په ترسراوي خلک مکلف وگرځول شول.

هوکې؛ که د امر بالمعروف په نامه کوم ارگان موږ ونه لرو، نه خو د اشغال څخه راپاتې شوي ناوړه میراث سمولي شو او نه هم هغو علیاء موخو ته رسیدای شو، چې له شل کلنې مبارزې مو درلودلې.

که موږ د نیکیو په لارښوونه او د منکراتو د ازالې په تکل نه شو، نو خدای مه کړه کلونه وروسته به مو ځوان نسل ، له اوسنۍ ټکنالوژي په استفادې سره بیرته همغه رنگ خپل کړي وي، چې جمهوریت یې د ترویج لپاره میلیاردونه ډالره ولگول.

# د فساد له اړخه د نړۍ پاک هیواد ډنمارک نه؛ بلکې افغانستان دی

د روڼتیا نړیوال سازمان د ۲۰۲۳ زیږدیز کال په خپل تازه راپور کې ویلي، چې افغانستان تېر کال د فساد په برخه کې د نړۍ په ۱۸۰ هېوادونو کې ۱۶۲م ځای خپل کړی او د تېر کال په پرتله په کې فساد کم شوی دی.

یاد سازمان ویلي، چې افغانستان تېر ۲۰۲۲ کال کې ۱۵۰ م ځاي درلود او په ۲۰۲۳ زیږدیز کال کې د منفي ٤ نمرو په ترلاسه کولو سره ۱٦۲ مقام ته رسېدلی دي.

دغه سازمان د فساد له اړخه د نړۍ پاک هېواد ډنمارک او ډېر ککړ هېواد سومالیا اعلان کړي، هغه اعلان چې سم نه دي.

ولې سم نه دي؟







د روڼتیا نړیوال سازمان په دغه راپور کې د افغانستان وضعیت په سمه توگه نه دي ارزولي او دلته د نشه یي توکو د کر، تولید او کاروبار مخنیوي او صفر ته راټیټول، د زورواکۍ او د قدرت د جزیرو له منځه وړل، د گمرکي عوایدو په راټولولو او بېرته مصرف کې شفافیت، د افغانیو متوازن ارزښت ساتل، په بریالۍ توگه د لویو بنسټیزو پروژو تطبیق او داسې نور ډېر فعالیتونه، چې د اسلامي امارت په واکمنۍ کې په بریالۍ توگه ترسره شوي او اکثریتو هېوادونو او نړیوالو سازمانونو پرې هم اقرار کړي، مد نظر نه دي نیولي او که چېرې دغه سازمان په سمه توگه دلته د اداري فعالیتونو سمه ارزونه وکړي، نو جوته به شي، چې تر ټولو روڼ هېواد ډنمارک نه؛ بلکې افغانستان دی.او بل دا چې اسلامي امارت په افغانستان کې پر داسې مهال واک ترلاسه کړ، چې پر اداري فساد یو ککړ نظام په کې له سختې ماتې سره مخ شو، نو په دومره کم وخت کې د فساد د مخنیوي په برخه کې دومره اوچت گامونه د دې ثبوت وړاندې کوي، چې اوسني نظام په دغې برخه کې غوڅ بریالي دي او دلته هیڅ داسې کومه نښه نښانه نه لیدل کیږي، چې د لږ فساد د شتون شاهدي ورکړي، نو ځکه ویلې شو، چې افغانستان د ځمکې پر مخ د فساد د نشتون او روڼتیا له اړخه لومړي هېواد دي.

افغانستان کې ولې فساد له منځه ولاړ؟دا ځکه چې اوس مهال افغانستان کې اسلامي نظام حاکم دي او د اسلام مبارک دین او واقعي انسانیت د دې کړنې اجازه نه ورکوي او بل دا چې د امارتي نظام چارواکي او مامورین د خلکو له منځه د خلکو په خدمت کې دي او د دوي وجدان دا اجازه نه ورکوي، چې خپلو خلکو ته د خدمت په لاره کې دې فساد ترسره کړي.

نو په کار ده، چې د روڼتیا نړیوال سازمان راتلونکي کې د افغانستان اداري سیستم سم و ارزوي او حقایقو ته متوجه شي.

افغانستان کې فساد نشته.

# د جنايي جرمونو په کشف کې د انځورګرۍ ارزښت

عزيزاحمد «اورياخېل»

فوټوګرافي(انځورګري) يو يوناني لفظ دی چې له دوو کلمو څخه جوړ (مشتق) شوئ، فوتو(نور) ګرافـی (ليکل يـا رسـمول). د انځورګرۍ فـن د هغو پرمختللو صنايعو لـه ډلې څخـه دی چې ورځ په ورځ د پرمختګ په حال کـې دی. ارزښـت او اهميت يې ډېرېږي. ځکه چې د ټولو پوهنو، فنونو، تخنيکـي پرمختګونه او همـدا رنګـه تربيتـي، تبليغاتي، فرهنګي کلتـوري او نورو برخو سره نه شلېدونکې اړيکه لري.

انځورګري د هنر له ارزښت¬ناکو شاخو څخه ده. يو انځور کېدای شي د بېلا بېلو مسايلو په ځانګړي توګـه د ټولنيزو مسـايلو لپاره د يوې ښـې بيانوونکې وسـيلې په توګـه وکارول شي، فرهنـګ او د انسـانانو د ژوند بېلابېلې شېوې راښـيي او د انسـانانو تر منځ د آندونو او فکرونو مبادله آسانوي. انځورونه د تاريخ ژبه او د ملتونو پېژندنه!

نن په نـړۍ کې لـه انځورګرۍ څخـه ډېره پراخه ګټه اخيسـتل کيږي، لکـه څنګه چې پوهېږو په بېلا بېلو برخو کې لکه: علمي، طبي، ادبي، سـياسي، اقتصادي، او نـورو څانګـو او همدارنګه په امنيتي برخه کـې د بې امنۍ او د جرمونـو په مخنيـوي او ورسره مبـارزه کې په پراخـه کچه ترې کار اخيستل کېږي او په عين حال کې انځورګري يوه خورا مصرف لرونکې رشته ده.

د انځورګرۍ ارزښـت د پېښـې ځای څخه ډېر واضح دی. ځکه چې انځور د جرم ځای د پوليسو په سـترګو کې ژوندی ساتي. ډېر داسـې جزئيات امکان لري چې په لومړي ګام کې له جرمي پېښې څخه د بررسـۍ په پايلـه کې د جنايي پوليسـو له سـترګو څخه پـټ پاتې شي چې بيا وروسـته د جرم د کشـف له پلوه ډېر اړين وي. او د پېښې د ځای بيا بررسي کول، د هغو بدلونونو په اثر چې د ځای پاکول او مينځل او داسـې نور...

جنايي انځورګري

له يوه علمي سيستم څخه عبارت ده چې لـه بېلابېلو تګلارو څخه په ګټې اخيسـتنې د آثارو او نښو نښـانو په راټولولو، ارزولو او د هغو د روښـانتيا لپـاره او په پای کې د جرم د مخنيوي لپاره کارول کيږی. لکه امنيتـي کمرې او له جنايـي پېښـو څخـه انځورونه اخيستل.

که يـو پوليس هـر څومره قوي حافظه هم ولري بيا هم د دې توان نه لري ټول هغـه جزئيات چې د پېښـې په ځای کې يې په سترګو ليـدلي په حافظه کې وسـاتي او د وخت په تېرېدو سره په تدريجي ډول يوه کچه ارزښت لرونکې د ليدو وړ لومړنۍ کتنې له حافظې وځي او هېروې يې. په دې اساس د جرمي پېښو ځای څخه د انځور



رامنځته شوي شوني نه وي لکه د ځای اثاثيه(لوازم) لېږدول، د پېښې اخيستل د دې لامل ګرځي تر څو هغه خلک چې زمـوږ د پام وړ دي او په هر وخت کې چې اړتيا وي د تر لاسه شويو انځورونو په واسطه د جرم صحنه په بشپړ ډول په خپل ذهن کې مجسـم کړو او هېر شوي جزئيات په ياد راوړو.

د يو انځور په اخيستلو کولای شو د يوې پېښې ټول اړخونه(بعدونه) مجسـم کړو. لکه د پېښې ځای د بررسـۍ د يوه عکاس په صفت د انځورګرۍ په وسـيله، د جنايي قضيې ټول اړخونـه، په هغه کې علايـم او آثار چې د فاعل له خوا پـر زيانمن، د زيانمن لـه اړخه په فاعل او د دواړو له پلوه د پېښـې په ځای کـې د قضيې تر ظاهري پېښېدو، ځای، شکل او د جرمي آثارو اړخونه د پېښې ځای سره د مکان له پلوه ښـکاره کړي. چې پـه يقيـن سره د انځورګرۍ له ډول ډول ميتودونو څخه په ګټې اخيستو سره کولای شو هغه آثار چـې د بېلابېلو عواملـو له کبله يـې د له منځه تلو امکان شـتون ولـرې د تل لپاره حفـظ کړو، د پېښـې د ځای او د جسـد د يوه قطعـه انځور په واسـطه کولای شـو قـاضي د جرم د پېښېـدو له اصلي حالته پـه عين ډول خبر او پوه کـړو، د انځورګرۍ د حفظ شـويو شـواهدو او مدارکو په واسـطه پر فاعل باندې د جرم د اعتراف او ثبوت لپاره ګټه واخلو، همدارنګـه په انځورګرۍ کې په لسـګونو نورې برخې شتون لرې چې په کشف، وقايه، مخنيوي او د جرمونو په توضيح کی

۵مخ

# پرون د امريکا او نن د اسرائيلو په خدمت کې

حسان مجاهد

امريکا چې پر افغانسـتان يرغل وکړ؛ ځينـو بې وجدانو افغانانو يـې د خپـل مسـلمان ملـت پر وړاندې پـوره ملاتړ وکړ او دغه ملاتړ ته يې په بېلابېلو عنوانونو د جواز لارې ولټولې. هغه مهال هم موږ د دوی پر فکر او عقيده پوره معلومات درلودل چې اصلاً دوی له کفارو سره ژوره دوسـتي لري او لـه دوی سره د همکارۍ لپاره له خپـل دين او خاورې تېر دي. کلـه چـې امريـکا د ماتې تر درشـله ورسـيده او زموږ له

ويـل کيږي چې همغه تښـتيدلي افغان ځواکونه د غاصبو اسرائيلو په ملاتړ د حماس جهادي ډلې پر ضد د جګړې کربښې ته تللي دي. افغانان بايد سترګې خلاصې کړي چـې دغه خلک لـه کفارو سره ژوره دوسـتي لري او هميشه يې د مسلمانانو پر ضد اوږه ورکړې ده، پرون چې يې د(خدای، وطن دنـده) نغاره ډنګوله؛ نن سـل په سـلو کې دروغ ثابته شوه؛ ځکه نن يې له مظلومو فلسطيني وګړو سره پـه مقاومـت د خدایﷻ

پرمختګ او تعليـم مخه نيسي، ستاسـو بشري حقوق ګواښي او له خپل ولسه پرديو ته ډېر وفادار دي؛ نن څرګنده شوه چې دوی پر افغانستان باندې اوس هم د پرديو يرغل ته ليوال دي او غواړي چې د هغوی تر غلامۍ لاندې بيا خپلو شومو کړنو ته ځان ورسوي.

پـرون چـې خلکـو د افغـان سـاتونکو په نامه پېژندل، نن د اسرائيلو سـاتونکي ثابت شـول او پرون چې يې(افغان ځواکونه د خلکو په خدمت کې) شـعار



خاورې يې پښې سپکې کړې، نو ورسره همفکره همکارانو هم له هيواده بهر ته تېښته غوره و بلله او هممهالـه يې له هيـواده بهر په افغانسـتان کـې د حاکم نظام پر ضد سازشـونه پيل کړل، څو ځله يې په مختلفو هيوادونو کې غونډې وکړې او له زړو دوستانو يې همکاري وغوښته. تازه په تازه

دښـمني پيل کړه او نـن په ډاګه شـوه چې هـدف يې لـه خپلې خاورې او وطنه ملاتړ نه، بلکې د اسرائيلو ملاتړ دي. دوی چې له بهره د امارت پر ضد له مقاومت هڅه کوي او افغانانو ته په فکر کـې دا ورکوي چې پر تاسـو له داسې حاکم نظـام سره مقاومت پيلوو چـې ستاسـو د اقتصادي

زمزمه کاوه، نن وليدل شو ل چې پـرون د امريکا او نن د اسرائيلو په خدمت کې ولاړ دي. تر اوسه پر افغانانـو او له دې وروسـته بايـد پر افغاني الاصلـه اسرائيلو وپېژنـدل شي؛ ځکـه الله تعالي فرمايي: ژبـاړه: چا چې د کفارو ملاتـړ وکـړ، هغوی لـه کفارو څخه دي.

# هر څوک په يو نه يو ډول تقليد کوي!

مغفور شهيدزی

څوک د دې ايات پر بنياد، ژباړه:نوپوښتنه وکړئ له خاوندانو دعلمه که چيرته نه پوهېدلاست! الايه سورة النحل ۴۳

اوچاپيا ځانونه دهغه ايات مصداق ګرځـولي دي چـي اللـه تعالی فرمايي:

ژباړه:اوکله چي دوی ته وويل شي تابعداري وکړئ دهغـه چي الله تعالی نازل کړی !دوی وايې چي نه ،بلکي موږدهغه تابعداري کووپه کوم چي موخپل پلرونه پيداکړي دي ، يعني تللي دي .

اياکـه څه هـم هغه پـه هيڅ نه پوهېږي اونه يې هدايت موندلی. الايه. سورة البقرة ۱۷۰

اوس داچـي دتقليدمودواړه طرفه دقرآن په رڼاکـي وليدل ايانودابيا دتعجب ځای نه دی چي اوس هم اکثروخلکو په باطـل تقليدلاس پوري ،کـړی د ترويج او پراختيا لپـاره يې متې رابډوهلـې دي ،له هـري لارې ورته کارکوي اوهغه چاتـه مـشرک ويل کېـږي چي دقرآن په هدايت يې تقليدته مخه کړې اوخاوندان ددغه تقليد لاهم داسي چوپ اولاځوابه پاتي دي!!!؟

نن دامهمـــــه نـه ده چي موږ پـه داسي څه ځانونـه مصروف کړوچـې هغـه دي تقريبـاً دمباحواوياهـم دمسـتحبوپه درجه کـې وي ،هغه دې دوخت ضرورت نه وي اوياهغه موبيخي اسـلامي مکلفيت نـه وي،بلکي اسلامپال‌مبارزين،دعوتګر،اديبان اودټولنـې دهرقشرافراد بايدهغه څه له خپـل نظراودقلم له څوکې لاندې کړو چي هغه

۵مخ

# د کابل وروستۍ غونډه د سيمې د هيوادونو او افغان حکومت ترمنځ مهم پړمختګ دی

هدايت الله

د افغانستان د سيمه ييزې همکارۍ ابتکار غونډه، چې د روانې اوونۍ د دوشـنبه په ورځ پـه کابل کې جوړه شوې وه، په دې غونډه کې د روسـيې، چين، ايران، پاکستان، ترکيې، ازبيکسـتان، ترکمنستان، قزاقستان، قرغيزستان، هندوستان او اندونيزيا استازو برخه اخيستې وه. دا غونډه د دې لپاره را بلل شوې وه، چې په سيمه کې يو له بل سره همکارۍ لا غښتلې او د باور فضا لا زياتـه شي او د سـيمې پر ګډو ګټو د نظر تبادلـه وشي. په کابل کـې د ابتکار غونـدې ګډونوالو ګـډ نظر پر دې و ، چې د سـيمې هيوادونه دې يـو له بل سره وصل او افغانسـتان د جنوبي او مرکزي آسيا ترمنځ نښلوونکې نقطه شي او

د سوداګرۍ او ترانزيټ په برخه کې مرکزي رول ولري.

پـه دې ناسـته کې چې د سـيمې




څلور مهم هيوادونه روسيه ، چين ، ايران او پاکستان يې غړي وو، له سياسي پلوه د افغانستان لپاره خورا ارزښتناکه بلل کېږي.

لـه بل لـوري په کابل کـې د دې غونډې جوړېدل د دې ښکارندويي هم کوي ،چې لاهم په سـيمه کې د افغانستان په اوسـني نظام باور پياوړی دی او دوی د افغانستان له اوسـني حاکم نظام سره له نږدې خـبرې او د اړيکو پيـاوړي کول غواړي.

همدارنګه په دې ناسـته کې به د سـيمې د هيوادونو ځينو اندېښنو ته هم پـوره ځواب ويل شـوی وي او هيوادونه به په سـيمه کې له شـته فرصتونو د ګډې استفادې لپاره همغږي او ګډ اتصال رامنځته کـړي، چې افغانسـتان به يې هم برخه وي.

د نظر خاوندان وايي، پکار ده چې افغان حکومت ورته نورې غونډې هم پـه کابل کې جوړې کړي او د سيمې او نړۍ د هيوادونو استازو ته په کې بلنه ورکړي.

په هر حال دا د سـيمې او اسلامي امارت ترمنځ يو ډېر مهم پرمختګ دی. له دې لارې به اسلامي امارت او سـيمه وکولی شي خپلې چارې همغږې کړي، د سـيمه ييز اتصال سلسله به چټکه او پياوړې شي او په لويه کې به د سيمې اندېښنې او د سيمې له فرصتونو

۵مخ

# نقش مدارس دینی در تربیه فرزندان کشور

**عبدالحق عتید**

**مدرسه قرلق :** این مدرسه در قریه یی بنام قرلق در ولسوالی درایم ولایت بدخشان در دامنه کوه خاکی به طرف شرق قرار دارد ، در فصل بهار تپه های خاکی وریگی این قریه سرسبز ودلرباست و در محوطه تقریباً بیش از یک جریب زمین موقعیت دارد ، گویند صاحب مدرسه این زمین را برای درس وتدریس علوم دینی وقف نموده است ومدت زمانی درخت های مثمر آن مورد استفاده رهروان قرار داشت وفعلاً این مدرسه ازهمه آن نعمات قبلی بی بهره است وتنها چند اتاق آن هنوز فعال است که افراد محدود در سطح پائین درس می خوانند.

در پیش روی مسجد این مدرسه دو درخت بزرگ چنار است که بزرگی آن بیانگر تاریخ طویل این مدرسه می باشد . در گذشته ها که نماز جمعه در قریه های محدود خوانده می شد، مدرسه قرلق یگانه مرکز بود که برخی از افراد دیندار وباتقوی جهت ادای نماز جمعه بدان روی می آوردند ونماز عید قریه های گلکی وکته وقاضی وقرلقین وچپه در همین مدرسه خوانده می شد وفعلاً باگذشت زمان این رسم جای خودرا به تغیرات ودگرگونی های عصر کنونی گذاشته است.

این مدرسه تاجایی که بنده اطلاع دارد، حیثیت مدرسه مرکزی ولسوالی درایم را دارد وشخصیت های بزرگ علمی چون داملا محمد شریف ومولوی غلام رسول ومولوی عبد العلی آن را اداره وسرپرستی نموده اند ، طبق معلومات بدست آمده مولوی محمد سلیم راغی که طغرا تخلص می نموده ودر فن فلسفه وحکمت شهره زمانش بود شش سال درین مدرسه درس خوانده است ، مولوی سلیم راغی از جمله شخصیت های بزرگ ونامی بدخشان است ، وقتی من در فاکولته شرعیات درس می خواندم استاد عبد الله سمندر غوریانی که از فیلسوفان مشهور افغانستان به شمار می رود گفت که او در فن فلسفه وحکمت استاد من بوده است واین خود بازتاب دهنده عظمت وبزرگی مقام علمی این مدرسه است ،متأسفانه گذشت تاریخ وعدم توجه وزارت اطلاعات وفرهنگ در مورد معرفی شخصیت های علمی ، این شخصیت نامی را به باد فراموشی سپرده است وحق آن را داشت که از وی یاد وبود به عمل می آورد تا در تاریخ یاد وی ماندگار می ماند و از امارت اسلامي امیدواریم که با برگزاری محافل علمی از شخصیت های بزرگ ونامی کشور قدردانی نمایند ویاد وخاطره های شان را در تاریخ ماندگار سازند.

ازشخصیت های صاحب فضل ودانش که زانوی تلمذ در آستان درس مولوی غلام رسول خم نموده است یکی هم مولوی سید اشرف از قریه ورسج ولسوالی فرخار ولایت تخار می باشد ، این شخص به نوبه خود در میان همتایان خود از مقام والای علمی برخوردار بود وکمتر کسی می توانست به پای دانش وی برسد . گویند وی هم برای مدتی بیش از یک ونیم سال درین مدرسه درس خوانده وبعداً به شهر فیض آباد رفته



ودرآن جا درس خوانده است ، یکی از خصوصیت های وی را که از زبان فرزندش شنیده ام این است که وقتی ظاهرشاه پادشاه وقت غرض سیاحت به قریه اورسج ولسوالی فرخار رفته بود ؛ خواست که به زیارت جناب شان برود ، طلبایش برایش گفتند که پادشاه در راه است ومی خواهد باشما دیدار نماید ، مولانا سید اشرف در جواب گفت: بیاید مانعی ندارد ، یعنی هیچ نوع التفات وسراسیمه گی که غالباً برخی ها به آمدن بعضی اشخاص بزرگ می نمایند در وی نمایان نشد ، وقتی شاه به محیط مدرسه نزدیک شد ؛ آنگاه از درس خانه خود بیرون شد وگفت : اکنون عزت مهمان برما لازم است وآنگاه از وی در داخل محوطه مدرسه اش در ورسج فرخار استقبال نمود .

روشندل روشن والی وقت بدخشان تنها کسی بود که برای نخستین بار شاهراه تازه احداث شده موتر درین ولسوالی را افتتاح نمود و نماز عید رمضان را درین مدرسه بامردم و علمای محل وطلاب مدرسه اداء نمود وبعد از ادای نماز عید رسم بران بود که قاری عبد الوهاب فرزند مولوی غلام رسول باید با قرائت قرآن و صدای دلنشین که داشت روح و روان حاضرین را بنوازد او قرائت بس زیبایی داشت که حاضرین هوس شنیدن صدای ملکوتی وی را داشتند . آنگاه نماز عید با دعائیه مولوی عبد الودود پایان یافت.

مختصر سوانح مولوی غلام رسول
مولوی غلام رسول فرزند رحمن قل از قریه گندم قول ولسوالی کشم بدخشان بوده که پدرش را درآوان کودکی از دست داد ویتیم ماند و تا سنین پانزده سالگی جوان نو رسیده بود که شغل چوپانی را پیشه گرفت ومال های چند از خود وهمسایه را می چراند ، روزی از روز ها درخاطرش گذشت که این همه سعی وتلاش بخاطر چرانیدن گوسفندان مردم تابکی ؟ وبرای آینده چه دست آوردی خواهد داشت ؟ باخود اندیشید وبه آینده تابان فکر کرد و راه سعادت در دل باز کرد وبا خود گفت چه بهتر که علم بیاموزم وسرکرده مردمان باشم واین تصمیم این یک حرف زندگی اورا تغیر داد وعزم نمود که به هرقیمت که می شود باید چنان در فراگیری علوم از خود مجاهدت نشان دهد که دیگر نباید این کلمه را از دیگری بشنود وبه همین علت چنان سعی وتلاش به خرچ داد که سرآمد همه شد ، وی شب ها را در روشنایی تیره چراغ های معمول آن وقت روز میکرد

خود را با مادرش شریک ساخت و از وی کسب اجازت نمود وچند رأس مواشی که داشت آن را به فروش رسانید وشماری را هم برای ادامه زندگی مادرش گذاشت و ازان لحظه به بعد نخست در آستانه امامان مساجد دور ونزدیک زانو علم و ادب خم کرد و بعد از انکه از رشد وجوانی بهره گرفت هوای تحصیل بیشتر در سر نمود وخواست که در قطار علماء محل سرآمد همه باشد .به این عزم وتصمیم با دوتن دیگر از همقطارانش عزم دیار هندوستان نمود ، در آن وقت پاکستان امروزی را هندوستان می نامیدند ، وی باقبول رنج های دردناک وتحمل مشکلات زاید الوصفی به این سفر ادامه داد. در عرض راه هندوستان جنگلات انبوه و راه های صعب العبور وجود داشت که جز انسان های مجبور هوس سفر از آن راه را نمی نمودند وچه بسا که مردمان نابلد زندگی خود را درین راه پر خطر از دست می دادند .وی نزدیک بود که زندگی خود را از دست بدهد ، کفش هایش به اثر ناهموار بودن راه پاره پاره شد وبه زمین افتاد ولباس های تنش هم به اندازه قابل توجهی از بین رفت ، وقتی به دیار هندوستان رسیدند، مردمان اهل خیر به وی لباس تازه پوشانیدند وقدوم شان را بدرقه کردند وبه عزمش آفرین گفتند ، وقتی راهنما در محضر مدرس مدرسه ، ایشان را به معرفی گرفت مولوی غلام رسول را از جمله طالبان عقب مانده معرفی کرد ، در ان وقت رسم آن بود که طالبان را از استعداد وتوانمندی شان پرسان می کردند وآنکه استعداد بهتر و خوبتری داشت او را طالب پیش قدم می گفتند ، وقتی وی این حرف را از رهنما شنید سخت افسرده شد وخود را خورد احساس نمود مگر وفقط برخی اندکی از شب را خواب می نمود وپیوسته کارش فرا گیری علم وعبادت الله بود ، اندک غذا صرف می کرد وبه دنیا وآراستگی های آن اعتنایی نداشت ، در مدت اقامتش در هندوستان زبان های پشتو و اردو را خوب آموخت وبعد به وطن برگشت ودر قریه قرلق درایم بعد از مرگ داملا محمد شریف که عالم بخارایی بود وظیفه تدریس را عهده دار گردید .بعد از مولوی غلام رسول شخص دیگری بنام مولوی عبدالعلی که از ولسوالی درواز بود تا مدت زمانی این مدرسه را به گونه سابق رهبری می کرد وتدریس می نمود ، تا آنکه وی نیز صحنه را ترک گفت و از ان تاریخ به بعد آهسته آهسته ستاره بخت این مدرسه رو به افول گذاشت .طلبای مشهور مدرسه قرلق

شاگردان ناموری ازین مدرسه درس دین آموختند وهرکدام به نوبه خویش سرآمد قوم ومردم خود شدند ودر ذیل نام برخی ایشان را می توان ذکر نمود :

۱- مولوی محمد سلیم راغی
۲.-مولوی سید اشرف ورسجی .
۳-داملا عبد الرحمن کیوی
٤.-مولوی حمد الله وردوجی .
٥-مولوی شیخ نورالدین وردوجی .
٦-مولوی شریف وردوجی .
۷-مولوی عبد الرحیم پنگانی .
۸-مولوی اکرم خواجه افغانی .
۹-مولوی فیض الرحمن از لنگر .
۱۰-مولوی زین الدین نیم تله .
۱۱-مولوی محمد امان نیم تله .
۱۲-مولوی محمد عمر از قریه خاسپک . این شخص در فن قرائت وخطابت ید طولائی داشته است .
۱۳-مولوی عبد الرحمن راغی –برراغ–
۱٤-ملاحبیب الله–مهاجر–
۱۱-مولوی عبد الحمید آتن جلو .
۱۲-مولوی عبد الله دیوری–رستاق .
۱۳-مولوی اعظم–رستاق . وغیره .

مولوی محمد سلیم طغرا که مسکونه ولسوالی راغ ولایت بدخشان بوده است درجمله شخصیت های فرزانه کشور محسوب میگردد ، مگر وزارت اطلاعات و فرهنگ به شناخت ومعرفی این دسته از علما توجه نه کرده وبا گذشت زمان نام ونشان این ابرمردان کشور از صفحه خاطرات فراموش می گردد ، خوب به یاد دارم وقتی استاد سمندر غوریانی در فاکولته شرعیات برای ما درس فلسفه می داد ، از وی یاد آوری نموده گفت که : مولوی سلیم راغی استاد من بوده است ومن فلسفه وحکمت را از وی آموخته ام وسمندر غوریانی تنها کسی است که در فلسفه وحکمت در افغانستان وحید عصر خود بوده است .

بی مناسبت نخواهد بود که بخاطر رفع ملالت وطبع خوشی گوشه یی از طرائف وحاضر جوابی مولوی محمد سلیم طغرا را خدمت خوانندگان محترم تقدیم بداریم :

روزی مولانا قربت ومولانا محمد سلیم راغی یکجا باهم در پل باغ عمومی کابل روان بودند ، اتفاقاً با دکتور سهیل که در ان وقت بصفت رئیس مطبوعات بود روبرو شدند ، دکتر سهیل خواست که نخست بامولانا قربت احوال پرسی کند، مگر وی اورا به مصافحه مولانا محمد سلیم ارشاد نمود ، وقتی باوی مصافحه کرد از وی پرسید :جوان ! از کجا هستی ؟ مولانا در جواب گفت:

نام وطنم گرندانی
داغ از دیده زاغ بردار

با شنیدن این حرف ، دکتور سهیل در اندیشه فرو رفت وذهنش اورا به دریافت مطلب وی یاری نه کرد . وقتی مولانا حالت تحیر وی بدید باز گفت:

روشن چو نشد چراغ چشمت
برخیز وسر چراغ
بردار

این بار هم دکتور سهیل نتوانست هدف وی را دریابد وسوال خود را ازین معما حل سازد . بعد به تفصیل آن پرداخت ، طوریکه نقطه زا را از زاغ برداریم راغ می شود وهمین طور اگر حرف چ را از چراغ برداریم بازهم راغ بدست می آید .آنگاه دکتور سهیل ترنجبین بدست داشت و آن را به گونه خوشطبعی تقدیم مولوی محمد سلیم نمود. وقتی آن را در دست گرفت این شعر راسرود :

یار دستمبو بدستم داد دستمبو گرفت
واه از آن دستمبو که دستم بود ز دستمبو گرفت

با شنیدن این قطعه دکتور سهیل سخت مشتاق صحبت وگفتگوی وی گردید.

# د پلار مینه

**لنده کیسه**

مور له ماشومتوبه په ناز رالوی شوي یو، هېڅکله هم د کورنۍ کوم غړي مور ته قهر او غصه نه ده کړې او نه یې د شاقه کارونو کولو ته پرېښې یو.

د غه پیرزوینه او همدردي زمور د گران پلار جان د مینې لوي ثبوت و، چې له مور سره یې لرله، هغه به په ښکاره مور ته د خپلې ناپایه مینې اظهار نه کاوه، خو له کړنو یې پوهېدلو چې مور ټول اولادونه ورباندې د زړه له تله گران یو.

په ځانګړې توګه زه، ځکه چې تل یې هڅه کوله د الله ج په مرسته زما هر ارمان ته ځان ورسوي او ماته به یې دغه خبره بار، بار تکراروله چې زه به ستاسو لپاره ځان خاورې کړم ،خو تاسو به چاته محتاج نه کړم، خپلې زده کړې وکړئ او ځان له سیالانو سره سیال کړئ.

پلار جان به په عمر خوړلې ځان زمور لپاره د هیواد په پلازمینه کې لوږې، تندې او سړې تودې تېرولې، چې کله به کور ته راته د ټولو لپاره به یې له لباسونو نیولې آن تر خوراکي شیانو پورې اخیستل.

یوه ورځ له دفتره د کور په نیت راووت. زما مشر ورور ته یې زنګ وواهه چې زه درځم خو په دې کې ډېر وخت ووت. د پلار جان معلومات نه کېدل، ورور مې وویل چې پلارجان ځنګه ناوخته کړه، نابېره د ورور د مبایل ټلۍ وشرنګېده، پلار مې په ماته گوډه ژبه په کمزوري غږ وویل چې زه د ماهیپر په لاره نغلو ته نارسیده په یوه ترافیکي پېښه کې ژوبل شوی یم، بدن مې ټول ژوبل دی،بېړه وکړه.

د ورور رنګ مې له ورایه معلومېده چې زیر زبېښلی شو.په وارخطایۍ مې ورنه وپوښتل څه خبره ده خو هغه وویلک راځه د باندې راوځه.له وتلو سره مې حالات په خرابېدو شول ،ورته ومې ویل:

هله ژر کوه چې نوره مې ځمکه له پښو تښتي.

ورور یو څه خاموش شو او بیا یې په ژړغوني غږ وویل: پلار جان سخت ټکر کړی او ژوبل دی له خولې مې چیغه ووتله او کور ته مې منډې کړې.

ورور مې د پلار جان د لټولو او روغتون ته د راوړلو په موخه له کوره ووت او زه د کورنۍ له نورو غړو سره پاتې شوم.

ورور مې د کاکا زوي ته چې په سروبي کې یې دنده درلوده زنګ وهلی و.

د کاکا د زوي دې کور ودان وي، کومه لټې یې نه وه کړې.

د پېښې ځای ته یې ځان رسولی و.

له پلارجان سره په موټر کې ناست څلور کسان ځای پر ځای شهیدان شوي وو،

خو زما پلارجان سخت ژوبل و.

د ننګرهار ولایتي روغتون ته مې د کاکا زامنو او ورونو انتقال کړ.

خو د هغه ټوک، ټوک بدن او وینې بهیدنې یې د وجود څواک اخیستی و.

په ټپي حالت کې یې زما او زما د زوي پوښتنه کوله.

ډاکټرانو ورته ژبه ګنډېله لس کوکونه یې ورکړل.

خو پلارجان مې سره له دې چې خبرې یې سمې نه شواې کولی

په زخمي ژبه د محمد، محمممد نوم اخیسته.

نور مې د زغم څه نه لرل.

په چیغو شوم او په ژړا، ژړا کې مې د یو شاعر دغه بیت خولې ته راغی.

**د ژوند په سترېو لارو کې**
**بې پلاره دې څوک نشي**
**محروم له دغه سیوري د**
**چیناره دې څوک نشي**

پلار په رښتیا هم مور ته په ښکاره څه نه ویل چې مینه درسره لرم.

خو تل یې خپله مینه ثابته کړه.

### د جنایي جرمونو ...

ترې گټه پورته کیږي. په جنایي برخه کې له انځورگرۍ څخه په بېلابېلو تگلارو گټه پورته کېږي. لکه: تقریبي انځورگري چې د پېښې ځای له لرې واټن څخه او یا د پېښې ټوله ساحه (اړخونه) تر انځورگرۍ لاندې راوړي، منظروي انځورگري دا د دې لپاره چې کله یوه پراخه سیمه په یوه انځور رانشي، له دې ډول انځورگرۍ څخه گټه پورته کیږي په سر کې څو بېلابېل انځورونه د پېښې د سیمې څخه اخیستل کېږي وروسته بیا انځورونه سره یو ځای کېږي، تفصیلي انځورگري په دې انځورگرۍ کې د هر اثر(مدرک) ځانته ځانته انځور اخیستل کیږي. او همدا شان د مظنونینو او اجسادو څخه د اړتیا مطابق انځورونه اخیستل کیږي.پایله یو انځور هر شئ چې څنگه دی په همغه شان ثبتوي، یو انځور د ډېر وخت لپاره ساتل کېږي، یو انځور د ثانیې یو پر ۱۰۰۰ زرمې برخې کې ډېره پراخه او پېچلې ساحه ثبتوي، یو انځور د یوې پېښې حقیقت په هر زمان(وخت) کې متصور او مجسم(ښکاره) کوي. فلمونه او د انځورگرۍ وسایل نسبت د انسان تر سترگو ډېر حساس وي په دې معنی چې د سترگو لید څخه د ډېرې لویې ساحې د ثبت توان لري.د انځورگرۍ صنعت د جنایي جرمونو د ثبت لپاره یوه ډېره اړینه وسیله شمېرل کېږي، سر بېره پر دې چې د جرمي پېښو ځای په ژوندۍ بڼه شودلی شي او په جنایي لابراتوارونو کې له هغو څخه ډېره گټه اخیستل کېږي. د جرمي پېښو د ځای انځورونه په قضایي ضبط ادارو (محکمو) کې ډېر گټور او موثر دي، ځکه چې د نوموړو ادارو وکیلانو او قاضیانو د پېښو ځای شخصاً نه وي لیدلئ، ځکه نو د انځور شتون د هغوی د ذهنیت په روښانه کولو کې مرسته کولای شي. د جرمي پېښو د ځای انځورونه پرته له شکه د روان پوهنې له پلوه د ډېر ارزښت لرونکي او د محکمې پر غړو ډېره اغېزه لري، ځکه د یوه قتل د پېښې منظره د هیڅ یوه قلم او ژبې په واسطه نشي روښانه کېدلای .لکه څرنگه چې د انځور په واسطه روښانه کېدای شي.

اخیستنې او سرچینې
۱-د کریمنالستیک او عدلی طب استادان،(۱۴۰۲). کریمنالتخنیک درسي کتاب، کابل: دولتی مطبعه
۲-ببرکزی، محمدعمر،(۱۳۹۱). کریمنالیستیک، کابل: میوند انتشارات
۳-اصیل، محمدایوب،(۱۳۹۳). تحقیقات جنایی علمی، کابل: دوهم چاپ انتشارات سعید

### هر څوک په ...

وخت رانه دحال په ژبه غواړي، په هغه پوري مواخروي مکلفیت تړلی وي اوهغه مودآینده نسلونوداصلاح اوپه اسلامي روحیه دسمبالیدلو سبب وگرځي.!چې له ټولومهمـــــــه موضوع یې همداتقلید ده چې زموږ تربحث لاندې ده.

### د کابل وروستی...

د گډې استفادې لپاره یو گډ مېکانیزم باندې کار وشي ،بې له شکه چې‌رته افغان حکومت ورته غونډې په هیواد کې زیاتې کړي او له بهرنیو هیوادونو سره په پلازمېنه کابل کې ورته غونډې وشي دا به موږ له نړۍ او سیمې سره نیغ په نیغه وصل کړي.))

د سیاسي چارو کارپوهان هم وایي: دا د اوسني اسلامي نظام لپاره یو ډېر ښه سیاسي فرصت دی او له دې فرصته باید دوی ډېره سیاسي گټه پورته کړای شي. په ځلونو دا ډول غونډې له افغانستانه بهر په ځینو هیوادونو کې شوي دي، خو دا لومړی ځل دي، چې په افغانستان کې دا ډول په زړه پورې او مهمه غونډه جوړېږي. دا یو ښه نوښت دی.))

ځیني نور بیا وایي: په کابل کې د سیمه ییزې همکارۍ د تماس ډلې غونډه له سیمې او گاونډیو هیوادونو سره د اقتصادي او سیاسي اړیکو په پراختیا کې مهم رول لري.

په ټوله کې باور دا دی چې د تېرو دوو کلونو په پرتله اوس د افغانستان د حکومت په تړاو د سیمې او نړۍ د هیوادونو دریځ مثبت بدلون موندلی.د کابل له تېرې اداري را وروسته دا لومړی ځل دی، چې کابل د سیمې په کچه د داسې سترې او مهمې ناستې کوربه و.

### د ترانسپورت برخه...

۵ د یادو پروژو له جملې څخه یوه یې د هرات د گذرې ولسوالۍ د مسافر وړونکو موټرو د ترمینل رغول دي چې په ۱۰۰۰ جریبه ځمکه کې د شاوخوا دوه میلیارده افغانیو پانگونې سره یې چارې ترسره کېږي او د گټې اخیستنې موده یې ۳۰ کاله ده.آخند زاده زیاته کړه، چې دویمه پروژه د فاریاب د آقینې بندر د تیر پارک رغول دي چې په ۲۰ جریبه ځمکه کې د ۹۰ میلیونه افغانیو په پانگونې سره په دوو کلونو کې جوړېږي او د گټې اخیستنې موده یې ۲۰ کاله ده.د ده په وینا: درېیمه پروژه د کابل نړیوال هوایي ډگر د نوې انتظارخونې او پارکینگ جوړول دي چې شاوخوا ۲۰ جریبه ځمکه کې د ۳۵۰ میلیونه افغانیو په پانگونې سره په ۱۸ میاشتو کې جوړېږي او د گټې اخیستنې موده یې ۳۰ کاله ده.دا په داسې حال کې ده ، چې د ترانسپورټ او هوایي چلند وزارت په روان مالي کال کې، په بېلابېلو برخو کې د ۴۶ پروژو چارې پیل کړې چې ساختماني چارې یې ۵۰ سلنه بشپړې شوې دي او همدا رنگه په پام کې لري چې په راتلونکي مالي کال کې هم ۶۰ بنسټیزې پروژې تطبیق کړي.هېره دې نه وي چې د یادو درېوو پروژو د پلي کولو په بهیر کې، سلگونو کسانو ته په مستقیم او غیر مستقیم ډول د کار زمینه برابرېږي.

**باختر**

### د چین ولسمشر...

د چین ولسمشر ته خپل باورلیکونه وسپارل.ولسمشر شي جینپینگ د افغانستان د اسلامي امارت د لوي سفیر او ځانگړي استازي په توگه د بلال کریمي د باورلیک منلو پرمهال نوموړي ته چین ته د سفیر په توگه ښه راغلاست ووایه او په کارونو کې یې ورته د برې هیله څرگنده کړه.د مراسمو په جریان کې بلال کریمي د چین د بهرنیو چارو وزیر وانگ یي سره هم ولیدل او نوموړي هم بلال کریمي ته د چین ولسمشر ته د باورلیک د وړاندې کولو له امله مبارکي وویله.هېره دې نه وي چې بلال کریمي د روان کال په ډسمبر کې په بیجینگ کې د چین ولسي جمهوریت د بهرنیو چارو وزارت ته د باورلیک د کاپي له سپارلو وروسته د افغانستان د اسلامي امارت په لوی سفارت کې کار پیل کړی.

### ارزگان کې مجهز...

فې.ډي خدمتونه هم ترسره کېږي.))د ارزگان والي مولوي محمد علي جان احمد هم له مرسته کوونکو بنسټونو څخه غوښتنه وکړه ،چې د خلکو اساسي ستونزو ته دې ځان ورسوي.دی وایي: لاهم په لرې سیمو کې خلک روغتیایي خدمتونو ته لاسرسی نه لري. مولوي محمدعلي جان احمد: (( له ټولو موسساتو څخه مې غوښتنه ده، په هغه څه چې ولس خوشحاله کېږي او ولس یې غوښتنه لري، باید د هغوی غوښتنو ته په کتلو خپل خدمات مخې ته یوسو.))

په جنوب زون کې د کډوالو د عالي کمیشنرۍ مسئول کېمینیا بوزیا«kimenyi Buzoya» ژمنه کړې ،چې په دې ولایت کې به په لرې پرتو سیمو کې د ورته روغتیایي مرکزونو د جوړېدو په برخه کې کار وکړي. د یادې سیمې دوه اوسېدونکي عبدالمنان او عبدالستار وایي: عبدالمنان: (( موږ له «یو.این. ایچ.سي.آر» څخه مننه کوو، چې دا یو کلینیک موږ ته کفایت نه کوي. موږ ته باید په هره سیمه کې دغه ډول کلینیکونه جوړ شي.))

### غور کې ۱۶ مخابراتي...

۱۹ نورې سیمې هم سروې شوې او په راتلونکي کال کې به یې د فعالولو چارې پیل شي.نوموړي زیاته کړه چې په راتلونکي کال کې د ۱۹ سروې شویو سایټونو په فعالولو سره به د دغه ولایت ۵۰ سلنه خلک له مخابراتي خدمتونو څخه برخمن شي. **باختر**

### سږ کال په هیواد کې...

مدیر عبدالودود خیرخوا وایي: په لویو لارو کې د ترافیکي څراغونو نشتوالی، د سړکونو خرابوالی او د شمال او سوېل پر لویو لارو د ترافیک ماموران نشتون په هیواد کې د ترافیکي پېښو اصلي لاملونه بلل کېږي.نوموړی زیاتوي: (( د کال له پیله په ټول هیواد کې ۳۰۴۵ ترافیکي پېښې شوي چې په پایله کې یې ۹۶۷ نارینه، ۱۹۲ ښځې او ۴۴۷ ماشومان مړه شوي او ۴۶۵۳ کسان ټپیان شوي دي.))دا په داسې حال کې ده چې د هیواد په بېلابېلو ولایتونو کې وختناوخت خونړۍ ترافیکي پېښې کېږي او له کبله یې گڼشمېر افغانانو ته مرگژوبله اوړي. مسئولین او موټرچلوونکي د دغو ترافیکي پېښو اصلي لاملونه د موټرچلوونکو بېغوري او د سړکونو خرابوالي یادوي.

### فراه کې ۵۰۰ کورنیو...

لگښت په ۶ میاشتو کې جوړه او گټې اخیستنې ته وسپارل شوه.نوموړي زیاته کړه، چې دغه شبکه ۶۰ تختې سولرو، د ۱۱۰ مترو په ژورتیا یو څاه او د ۴۰ متره مکعبه پاکو اوبو په لرلو سره په یو وخت کې ۵۰۰ کورنیو ته د څاک اوبه برابروي.

### کشاورزان زعفران در...

ص مالداری کندهار، زعفران را بدیل خوب برای کاشت کوکنار میدانند و میگویند که آبهوای این ولایت برای کاشت زعفران مساعد است.ننگیالی سمون، سخنگوی ریاست زراعت، آبیاری و مالداری کندهار، به سلاموطندار گفت که، این ریاست به اندازه توانایی خودش به کشاورزان همکاری کرده است و این همکاریها ادامه خواهد داشت. به گفته او، پیش از این در تمام کندهار در ۹۲ جریب زمین زعفران کاشت میشد و اکنون به ۴۴۱ جریب زمین رسیده است. او میافزاید: (( ما به مردم از طریق ریاست در مورد امراض معلومات میدهیم؛ گاه و ناگاه ما معلومات را به آنان میرسانیم. از طریق مدیریت منظم، زعفران پروسس و به کشورهای بیرونی صادر میشود.))کارشناسان، محصولات زعفران را بدیل خوب برای کاشت کوکنار میدانند و میگویند که هماکنون حدود یک هزار کشاورز در کندهار سرگرم کاشت زعفران هستند که از هر جریب زمین ۴۰۰ تا ۶۰۰ ملی گرام زعفران جمع میکنند.بر اساس معلومات اتاق تجارت و سرمایهگذاری کندهار، هر کیلوگرام زعفران در کشورهای بیرونی میان ۱۲۰ تا ۱۳۰ هزار افغانی ارزش دارد. نجیب‌الله ساحل

### اشغالگر له ډېرو ...

چې دین او افغاني ارزښتونو ته زیان ورسوي، همدا د افغانستان د مسلمان ولس د قربانیو پایله ده، چې اوس مهال اسلامي امارت پر ټول افغانستان واکمن دی.د ریاست الوزراء سیاسي مرستیال څرگنده کړې: د ښوونځي او پوهنتون زده کوونکو د مدرسې د طلباوو په څېر د بهرنیانو په ماتولو کې ونډه لرله او د دوی په منځ کې توپیر نشته.نوموړي د خپلو خبرو په پای کې د خوست او په ټوله کې د لویې پکتیا له قومي مخورو او علماوو غوښتي، له هغو مسایلو دې مخنیوي وکړي چې د ټولنیزو او قومي ستونزو سبب کېږي.د دستار بندۍ په یادو مراسمو کې د دیني مدرسو استادانو، علمای کرامو او قومي مخورو له اسلامي امارته ملاتړ د هر افغان مسئولیت بللی.دوی دغه راز خوست کې د دیني مدرسو د اغېزمن فعالیت لپاره د نصاب او دوامداره څار په موخه چارواکو او مسئولینو ته لازمي سپارښتنې هم کړې.

### یو متر دولتي ...

اوبو لگولو او مالدارۍ رئیس وویل، چې د دولتي ځمکو د ببرته راگرځولو او مخنیوي کمېسیون له لارې؛ ۲۵۹ زره ۳۶۴ جریبه عامه ځمکه، ۱۲۴ زره ۵۲۵ جریبه املاکي ځمکه تثبیت شوې او دغه راز ۱۰۶ زره ۷۳۴ جریبه ځمکه د پلاوې تر څېړنې لاندې ده.

### د کابل ـ کندهار...

او په راتلونکي کال کې یې کار بیا پیل شي.همدارنگه ملا محمد عیسی ثاني په دغه سفر کې د کابل – کندهار لویې لارې اړوند په دامان ولسوالۍ کې د یو محراب جومات له رغنېزو چارو څخه لیدنه وکړه او اړوندو مسئولینو ته یې د کار د چټکتیا او غوره کیفیت په اړه لازمي لارښوونې کړې.د ټولگټو وزارت د سرپرست په لارښوونه د یاد وزارت تخنیکي ټیمونو د کندهار – ارزگان لویې لارې له کاري بهیر څخه د لیدنې ترڅنگ د کندهار ولایت د حلقوي سړک له ټاکل کېدو څخه هم لیدنه وکړه.

### وزارت معادن قرارداد...

که به منظور امضای قرارداد فروش تیل برگزار شده بود، میگوید، که کارها روی استخراج بیشتر نفت از حوزههای نفتی کشور جریان دارد.او میافزاید: ((۲۳ هزار کیلومتر مربع ساحه که در آن یازده بلاک نفت و گاز وجود دارد، آن را به اعلام دادهایم. به آن خیلی از شرکتهای ملی و بینالمللی مراجعه کرده اند. در روزهای نزدیک کارهایش شروع میشود و به قراردادی سپرده خواهد شد. در هرات انشاءالله استخراج نفت و گاز عنقریب شروع میشود، ما با این استخراج به خودکفایی نزدیک خواهیم شد.))

گفتنیست که حوزه نفتی آمو دریا، از عمدهترین حوزههای نفتی کشور است و بیشتر بخش آن در سرپل قرار دارد. هماکنون روند استخراج از دستکم ده چاه نفت در سرپل از سوی یک شرکت چینی جریان دارد و چاههای نفت از معادن عمده است که امارت اسلامی روی استخراج آن تمرکز دارد.

### د ماینونو د خطرونو...

د ماین پاکۍ د انسجام او همغږۍ رئیس نورالدین رستمخېل وایي: د ۲۰۲۳ کال له پیل څخه د روان کال تر جنوري میاشتې پورې په ټول هیواد کې د ماینونو د چاودنو له امله ۳۱۴ پېښې چې له کبله یې ۱۸۰ کسانو خپل ژوند له لاسه ورکړی او ۲۹۱ نور ټپیان شوي، ثبت شوي دي.بلهخوا په یوشمېر ولایتونو کې هغه خلک ،چې د تېرو جگړو له امله د پاتې شویو ماینونو له خطرونو سره مخ دي، له حکومت څخه غواړي چې سیمې یې له روزنې وړاندې له ناچاودو ماینونو پاکې کړي. د غزني د اندړو ولسوالي د ناني سیمې اوسېدونکي غلام او د خاص ارزگان ولسوالۍ اوسېدونکی عبدالله وایي: (( څو میاشتې مخکې زموږ کلي کې د هاوان یوه مرمۍ وچاودېدله، یو ماشوم پهکې شهید شو، دوه نور ټپیان شول. خلک نه پوهېږي چې چېرته ماین شته، چېرته نشته. دولت باید یو کار وکړي چې کلي له ماینونو پاک کړي.)) (( دلته زموږ سیمه کې له پخوا ماینونه پاتې دي. ماشومان لاس وروړي، څوک خپل لاس له لاسه ورکوي، څوک یو بل ډول کېږي. غوښتنه مو دا ده چې دولت او موسسې دا ماینونه لرې کړي؛ له روزنې مخکې دې سیمې له ماینونو پاکې کړي.))د ملگرو ملتونو سازمان د معلوماتو له مخې، په افغانستان کې درې میلیونه وگړي له ماینونو، لاسي بمونو او له جگړې د پاتې ناچاودو چاودېدونکو توکو له خطرونو سره مخ دي.

### بلخ ولسوالی کې...

لېږدولو لپاره د لمریزې برېښنا تنظیم، د ښار د څراغونو لپاره د ۳۶ ستنو نصبول او همدارنگه پر ۱۶۴۹ متره سړک کانکرېټ اچول شامل دي چې پرې ۲۳ میلیونه، ۸۱۹ زره او ۶۴۶ افغانۍ لگښت راغلی دي.ابوجواد زیاته کړه، چې دې اداري په تېره میاشت کې څه باندې ۷ میلیونه افغانۍ عواید هم راټول کړي دي.

### هرات کې ۴۵۰۰ پر...

دوی ته د کار زمینه برابره کړي، ترڅو له درملنې وروسته بیا په نشه یي توکو اخته نه شي.له بلې خوا د هرات سیمه ییز چارواکي وایي، چې په دغه ولایت کې د روږدو کسانو تر بشپړ له منځه وړلو پورې به د روږدو کسانو درملنه روانه وي.د یادونې وړ ده، چې تېر ژمي هرات ښار کې په نشه یي توکو د بې سرپناه روږدو کسانو د راټولولو لړۍ د خلکو په همکارۍ پیل شوې وه، چې تر اوسه یې زرگونه کسان ترې روغ شوي دي.

# Hewad Daily

د ورځپاڼو رئيس : م محمد ابراهيم نبيل
موبايل : ٠٧٨٢٠٨٠٦٦٦
آمر او مسئول مدير : عطاء الله مبارز
موبايل: ٠٧٧٤٣١٨٩٠٢
مسئول سكرتر: شېرمحمد نظري
موبايل: ٠٧٨٨٥٠٣٣٧١

پته: د بهرنيو چارو وزارت ته مخامخ د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت نوې ودانۍ
د اړيکو شمېره: س۲۵۲۶۳۱۰ - ۰۲۰
E-mail :info@hewaddaily.com
E-mail : hewad1948@gmail.com
دهيواد ورځپاڼې انټرنېټي پاڼې دلاندې ويب سايټ له لارې هم کتلی شئ
ويب سايټ: www.hewaddaily.com
د شکاياتو اوتوزيع ځانګه:
۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹-۰۷۶۶۰۴۴۹۶۶-۰۷۳۶۰۶۰۷۳

پنجشنبه درجب المرجب ۲۱ مه ۱٤٤٥ ق کال | دسلواغې ۱۲ مه ۱۴۰۲ ل کال | د2024م کال دفبرورۍ لومړۍ


مــــولوي عبدالكبير:

## اشغالګر له ډېرو هڅو سره سره ونه توانېدل چې ديني او افغاني ارزښتونو ته زيان ورسوي

د رياست الوزراء سياسي مرستيال مولـوي عبـد الكبيـر خوسـت تـه د سـفر پـر مهـال د يـاد ولايـت د جامعـه مظهـر العلـوم نيـازي مدرسې د دستار بندۍ په مراسمو کې چې پکې د امـر بالمعـروف، نهي المنکر او شکايتونو اورېدلو سرپرست وزير، د اسلامي امارت يو شمېر مسئولينو، علمای کرامو او قومي مخورو هـم ګډون درلود، ګـډون کړی.مولـوي عبـد الكبيـر ټولـو فارغـو شـويو فاضلانـو تـه د



مبارکۍ پـر مهـال پـه ټولنـه کـې د دينـي او عـصري بنسـټونو د پياوړتيـا پـر ارزښـت ټينـګار کـړی او ويـلي يـې دي؛ څرنګـه چـې پخوانيـو نسـلونو دينـي ارزښـتونه سـاتلي، نـو اوس د نويـو نسـلونو مسـئوليت دی چـې اسلام تـه خدمـت وکـړي او تـر نـورو يـې پـه سـمه توګـه ورسـوي. نومـوړي وويـل : د علـماوو او قومـي مخـورو لـه برکتـه اشـغالګر لـه ډېـرو هڅـو سره سره ونـه توانيـدل، **۵مخ**

## د کابل - کندهار لويې لارې د بيارغونې کار پر بېلابېلو برخو وېشل کېږي

د ټولګټـو وزارت سرپرسـت مـلا محمـد عيسـی ثـاني د يـاد وزارت د يـو شـمېر رئيسـانو او انجنيرانـو پـه ملتيـا د راتلونکي کال پـه کاري پـلان کـې د کابـل - کنـدهار لويـې لارې د پاتـې برخـو کار د لېـدو پـه موخه له يـادې لويـې لارې څخـه ليدنـه کـړې. ټولګټـو وزارت د يـادې لويـې لارې بيارغونـې کار تـېر کال پـه اوو لاټونو کـې پيـل کـړي و، چـې دا مهـال يـې لـه يـادو اوو لاټونـو څخـه د ځينـو برخـو کار بشـپړ شـوي دي.د يـاد وزارت سرپرسـت تخنيکـي ټيمونـو او انجنيرانـو تـه لارښـوونه وکـړه، چـې د پاتـې برخـو کار دې پـه نـورو بېلابېلـو کوچنيـو لاټونـو و وېشي، ترڅـو لـه نـورو شرکتونـو سره د داوطلبـۍ لـه لارې قـرارداد شي **۵مخ**



مسئولين :

## يو متر دولتي ځمکه هم غاصبينو ته نه پرېږدو



د هـرات والي مولانـا نـور احمـد اسلامجار د دې ولايـت د بېلابېلـو ادارو لـه رئيسـانو سره د يـوې ناسـتې پرمهـال، د غاصبينـو پـر وړانـدې د جـدي مبـارزې پـه اړه خبرې وکـړې.د هـرات والي مولانا نـور احمـد اسـلامجار وويـل ،چـې د غاصبينـو پـر وړانـدې حکومـت کار پرېکنـده دی او يـو مـتر دولتـي ځمکـه هـم د غاصبينو پـه لاس کـې نـه پرېږدو.نومـوړي ټينـګار وکـړ چـې کـه غاصبـين د ولسـوالانو او نـورو چاروا کـو لـه امـر سره مخالفـت کـوي، بايـد ولايـت تـه معـرفي شي.پـه همـدې حـال کـې د هـرات د کرنـې، **۵مخ**

## وزارت معادن قرارداد فروش ۶۰ هزار تُن نفت را با يک شرکت داخلی امضأ کرد

رهـبری وزارت معـادن و پترولیـم حکومـت سرپرسـت افغانسـتان بـه تاریـخ ۱۰ دلـو در برنامـه یـی قـرارداد فـروش ۶۰ هـزار تُـن نفت استخراج‌شـده از حـوزه نفتـی آمـو دریـا را بـا یـک شرکـت داخلـی امضـأ کرد.مسـئولین ایـن وزارت، می گوینـد کـه ارزش ایـن قـرارداد ۵، ۲۵ بیسـت و پنـج اعشـاریه بنـج میلیـون دالـر اسـت و در آن ۶۰ هـزار تُـن نفـت بـه منظـور



پروسـس بـه فـروش رسـیده اسـت. آنهـا، از شـفاف‌بودن رونـد ایـن قـرارداد بـه شـهروندان اطمینـان می‌دهند.شـهاب‌الدین دلاور، سرپرسـت وزارت معـادن و پترولیـم، در نشسـتی **ص۵**

## بلخ ولسوالۍ کې ۵ پروژې پلې شوې

د بلـخ ولايـت د بلـخ ولسـوالۍ ښـاروال وايـي ، چـې پـه دغـې ولسـوالۍ کـې يـې د نـږدې ۲۴ ميليونـه افغانيـو پـه لګښـت ۵ رغنيـزې او پراختيايـي پـروژې پلې کـړې دي.د يـادې ولسـوالۍ ښـاروال مولـوي قمرالديـن ابـو جـواد باختـر آژانـس تـه ويـلي، چـې تېـر کال يـې پـه دې ولسـوالۍ کـې ۵ پـروژې پلې کـړې ، چـې پـه کـې د بلـخ ښـار تـه د ننوتـو دروازې جـوړول، د ښـاروالۍ د اړونـدې اداري لـه خـوا د احاطـې جـوړول، د ونـو د اوبـو لګولـو او ښـاريانو تـه د اوبـو **۵مخ**

## د ماينونو د خطرونو په اړه درې نيم ميليونو تنو ته پوهاوی ورکول کېږي

په افغانسـتان کـې د ملګـرو ملتونـو د ماشـومانو د ملاتـړ صنـدوق يـا يونيسـف ورمـه ورځ پـر خپلـې ايکس‌پاڼـې ليـکلي ،چـې پـه روان زېږديـز کال کـې بـه لـه جګـړې د پاتـې ماينونـو د خطرونـو پـه اړه د ماشـومانو پـه ګـډون، د ۶ ،۳ درې اعشـاريه شپږ ميليونـه کسـانو لپاره روزنيـز پروګرامونـه جـوړ کـړي. يونيسـف وايـي: د چاودېدونکـو توکو د خطرونـو پـه اړه خلکـو تـه د دغـو پروګرامونـو پـه جوړولـو سره بـه هغـوی ويوهېـږي چـې څرنګـه د پاتـې شـويو چاودېدونکـو توکـو لـه خطرونـو ځـان او کورنـۍ وسـاتي.



يونيسـف زياتـه کـړي: ((افغانسـتان پـه نـړۍ کـې د ناچـاودو توکـو لرلـو لـه اړخـه د ککـړو هيوادونـو لـه ډلې يـو دی. يونيسـف غـواړي ، چـې پـه روان زېږديـز کال کـې د ماشـومانو پـه ګـډون، درې ميليونـه او ۶۰۰ زره کسـانو تـه د چاودېدونکـو توکـو د خطرونـو پـه اړه روزنـه ورکـړي.)) پـه ورتـه وخـت کـې پيښـو تـه د رسېدو پـه چارو کـې د دولت وزارت مسـئولين وايـي ،چـې لا هـم د هيـواد پـه يوشـمېر ولايتونـو کـې ولسـوالۍ پـه ماينونـو ککـړې دي، چـې لـه کبلـه يـې د خلکـو ژونـد هم لـه ګواښ سره مـخ دی.د دغـه وزارت **۵مخ**

## هرات کې ۴۵۰۰ پر نشه يي توکو روږدي تر درملنې لاندې دي

پـه هـرات کـې د روږدو کسـانو لپـاره د څلـور زره بسـتريز روغتـون مسـئولين وايـي، چـې پـه دې روغتـون کـې د څـه بانـدې ۴ زره ۵۰۰ روږدو کسـانو درملنـه روانـه ده.د يـاد روغتـون مسـئولين لـه خلکو او سـوداګرو هـم غـواړي چـې د يـادو کسـانو پـه درملنـه کـې ورسره همکاري وکـړي.پـه ورتـه وخت کې پـه دغـه روغتـون کـې روږدي کسـان د اسلامي امـارت لـه مسـئولينو څخه هـم غوښـتنه کـوي، چـې **۵مخ**

## بهرني لنډخبرونه

## د غـزې جګړه کې د صهيونېستي رژيم يو پر پنځمه پوځيان د داخلي ډزو له امله وژل شوي



صهيونيسـټ رژيـم پـه دې وروسـتيو کـې اعـلان کـړی ، چـې د غـزې پـه جنـګ کـې د خپلـو پوځيانـو د کابـو يـو پـر پنځمـې برخـې د وژل کېدو علـت خپلمنځـي دی او دا حتـی د ګڼـې ګونـې پـه ملکـي سيمو کـې د جګـړې لپـاره هـم ډېره لـوړه کچه ده.صهيونيسـټي پـوځ په دې وروسـتيو کـې پـه غـزه کـې د اکتوبـر لـه اوومـې نيټـې راهيسـې د صهيونيسـټي پوځيانـو پـه جنـګ کـې د هغـو ۵۵۷ پوځيانـو او افسرانـو نومونـه خپاره کـړې، چـې د ريزرفـو پوځيانـو پـه شـمول وژل شـوي دي.د دغـو تلفاتـو لـه جملې څخـه ډېـر يـې د غـزې لـه ترانګـې سره پـر پولـه وژل شـوي او د ځمکنـي بريـد لـه املـه پـه غـزه کـې دننـه ۲۲۰ پوځيـان وژل شـوي دي. NBC خـبري ويـب پاڼـې راپـور ورکـړي چـې د غـزې د ځمکنـۍ جګـړې لـه پيـل راهيسـې د ۲۲۰ اسرائيـلي سرتـيرو لـه ډلې څخـه ۳۶ يـې د داخـلي ډزو او عمليـاتي پېښـو لـه املـه وژل شـوي ،چـې د کارپوهانـو پـه وينـا پـه عـصري پوځـي تاريـخ کـې لـه ټولـو لـوړ شـمېر دی.ايـن بي سي نيـوز راپـور ورکـړی، پـه داخـلي ډزو کـې چـې اسرائيـلي پوځيـان يـې وژلي د اسرئيـلي اردو لـه خـوا هوايـي بريـد او چاودېدونکـي توکي شـامل دي. ځينـې يـې هـم د زغـره والـو موټـرو پـه واسـطه چـې چپـه شـوي يـا پـه غلطـۍ سره پېژنـدل شـوي او د ټانـک او توپخانـې د ډزو لـه املـه مـړه شـوي.د امريـکا متقاعـد جـنرال شـان مکفرلينډ د اسرائيلـو دا کار توجيـه کـړی او زياتـه کـړې يـې ده ،چـې د دې ډول تلفاتـو د کمولـو لپـاره هېـڅ شي شـتون نـه لـري او زياتـه يـې کـړه چـې ښـاري جګـړه پـه حقيقـت کـې هـر ځـواک لـه خپلـو ډېـرو تخنيکـي ګټـو څخـه بـې برخـې کـوي. د امريـکا د سـمندري ځواکونـو متقاعـد جـنرال جيمـز سټاوريډيس هـم د غـزې پـه جګـړه کـې د اسرائيـلي پـوځ د داخـلي ډزو لـه املـه د خپلـو زيـات شـمېر عسـکرو د وژلـو لپـاره عذرونـه وکـړل.ده تاکيـد وکـړ: اسرائيلـو د هغـو ځواکونـو د چمتـو کولـو او روزلـو لپـاره وخـت نـه درلـود چـې غـزې تـه واسـتول شي. لـه داخـلي اور څخـه د مخنيـوي کليـدي لاره د غـزې پـه تنګـو سرحدونـو کـې د مختلفـو پيـاده ځواکونـو، ټانکونـو، الوتکـو او توپچـي واحدونـو ترمنـځ د اړيکـو ډاډمـن کـول دي.د تسـنيم د راپـور لـه مخـې، دغـه متقاعـد امريکايـي جـنرال پـه غـزه کـې د جګـړې پـر مهـال د اسرائيـلي پوځيانـو چلنـد او د هغـوي ړنـدو ډزو تـه پـه اشـارې سره، جګپـوړو صهيونيسـټي افسرانـو تـه سپارښـتنه وکـړه، چـې د جګـړې پـر مهـال پوځيانـو تـه په پرله پسـې توګـه يادونـه وکـړي.د غـزې پـه جګـړه کـې د داخـلي ډزو لـه املـه د وژل شـويو اسراييـلي سرتـيرو د شـمېر پـه اړه د يـوې پوښـتنې پـه ځـواب کـې، د اسرائيلـو د پـوځ ويانـد دا پېښـه « وحشـتناکه» وبللـه.



## د جنوبي کوريا لوېديځ ساحل کې د امريکا يوه ايف ۱۶ الوتکه نسکوره شوې

د امريـکا متحـدو ايالتـو يـوه ايـف ۱۶ جيـټ جنګـي الوتکـه پـرون د جنـوبي کوريـا د لوېديـځ سـاحل پـه اوبـو کـې نسـکوره شـوې ده.د معلوماتـو لـه مخـې دغـه الوتکـه يـوې پوځـي اډې تـه نږدې رانسـکوره شـوې او پيلـوټ تـرې ځـان سـالم ژغـورلي دي.امريکايـي پوځـي چاروا کـو هـم د دې الوتکې نسـکورېدل منـلي او پـه دې اړه يـې د پلټنـو کولـو خـبر ورکـړي دي.دغـه الوتکـه پـه داسـې مهـال رانسـکوره شـوې، چـې سيمه پـه ځانګـړي ډول د کوريـا ټاپـو، د چـين ختيـځ سـواحلو(ټايوان) او جاپـان شـاوخوا اوبـو کـې د شـمالي کوريـا او امريـکا او متحدينـو يـې لکـه جاپـان، جنـوبي کوريـا، ټايوان او دغـه راز د چـين ترمنـځ پوځـي نانـدرۍ مـخ پـر زياتېـدو دي.